FEDERAL WAY
PUBLIC SCHOOLS

# د ټولنیزو رسنیو د پلېټفارمونو ډکشنري

| پلېټفارم | تفصیل | موخه یا ارزښت | د عمر اړوند لارښوونې | اضافي سرچینې |
|---|---|---|---|---|
| **"Discord" ډیسکورډ**<br><br>** دا د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "Discord" ډیسکورډ غږیز، ویډیویي او متني پیغام د لیږد یو اپلکېشن دی. | کارن کولای شي چې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د خپلو ملګرو سره اړیکه ونیسئ او یو له بله همکاري سره وکړي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br><br>د "Discord" ډیسکورډ د خوندیتوب او عمر اړوند شرایط | • د "Discord" ډیسکورډ" خوندیتوب سایټ د کورنیو اوروزنوکولپاره داسي لارښوني لري چې څنګه د یو فرد تجربه کنټرول کړي.<br>• د "Discord" ډیسکورډ اړوندد کورنۍ اعظمي لارښود |
| **"Facebook" فیسبوک**<br><br>* د سیمه ایزو اړیکو لپاره کارول کیږي | "Facebook" فیسبوک خپلو کارونکو ته اجازه ورکوي چې پروفایلونه جوړ کړي ترڅو د پوستونو، انځورونو، ویډیوګانو او لینکونو د شریکولو له لاري په آنلاین بڼه له نورو سره وصل شي. | کارونکي کولای شي په خبرو اترو کې برخه واخلي او د هغه کسانو سره خپل نظریات شریک کړي چې ددوی سره مشترکي اړیکي لري او یا له لیري واټنه ددوی سره اړیکي ساتي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br><br>د "Facebook" فیسبوک د استعمال لپاره د عمر شرایط | د والدینو لپاره د فیسبوک پورټال |
| **"Fortnite" فورټنایټ**<br><br>** دا د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "Fortnite" فورټنایټ د ژوندي پاتې کېدو یوه لوبه ده چې لوبغاړي پکې ددې لپاره مبارزه کوي چې وروستی ژوندی کس دی پاتې شي. | ددې لوبې کارونکي د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د ملګرو او نورو کسانو سره په ګډه د لوبې کولو لپاره ستراتیژیاني جوړوي. | په دې کې د حداقل عمر شرایط نشته<br><br>له 13 کلنۍ څخه لوړ عمر لرونکو لپاره ورانديز کېږي (په پرانستي توګه د پیغام لېږلو او د عملي تاوتریخوالي قابلیت لري - اړوند توضیحات د "Fortnite" فورټنایټ اړوند د والدینو په لارښود کې وګورئ. د والدینو په لارښود کې وګورئ) | د "Fortnite" فورټنایټ اړوند د والدینو په لارښود |
| **"Instagram" انسټاګرام**<br><br>* دا د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی | "Instagram" انسټاګرام د عکس او ویډیو شریکولو یو اپلکېشن دی. | ددې اپلکېشن کارونکي کولای شي د ملګرو، کورنۍ، مفکرینو، نامتو شخصیتونو او برانډونو اړوند پوستونو سره اړیکه ونیسي او تبصره پرې وکړي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br><br>د "Instagram" انسټاګرام د خوندیتوب او عمر اړوند شرایط | د "Instagram" انسټاګرام لپاره د والدینو لارښود |

# د ټولنیزو رسنیو د پلټفارمونو ډکشنري

| پلټفارم | تفصیل | موخه یا ارزښت | د عمر اړوند لاربښوونې | اضافي سرچینې |
|---|---|---|---|---|
| **"Minecraft" ماینکرفټ**<br><br>* "Minecraft" ماینکرفټ: تعلیمي بڼه یې د FWPS لپاره تصویب او کارول کېږي | "Minecraft" ماینکرفټ د لوبو یوه نړۍ ده چې هلته ددې پلټفارم کارونکي کولای شي د کتلوي جوړښتونو په کارولو سره هر شی جوړ کړي. | ددې پلټفارم کارونکي په نوښتي ډول د هندسي او مځکپېژندنې څخه په استفاده د شیانو د جوړولو په اړه فکر کوي ترڅو خپل خلاقیتونه رامینځته کړي، سپړنه وکړي او له ملګرو او کورنۍ سره یې شریکې کړي. | په دې کې د حداقل عمر شرایط نشته<br><br>د 13 څخه د کم عمر لرونکو کارونکو لپاره د "Minecraft" ماینکرفټ اکونټ معلومات | د "Minecraft" ماینکرفټ لپاره د والدینو لارښود |
| **"Pinterest" پینټریسټ**<br><br>** د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "Pinterest" پینټریسټ یو انجن دی چې د انځورونو، پوسټونو او لینکونو له لارې د خپلې خوښې موادو د موندلو او شریکولو لپاره ډیزاین شوی دی. | ددې پلټفارم کارونکي کولای شي د خپلې خوښې موادو د موندلو لپاره پوسټونه او بورډونه وموي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br><br>د "Pinterest" پینټریسټ د استعمال لپاره د عمر شرایط | د "Pinterest" پینټریسټ په اړه ټول معلومات |
| **"Roblox" روبلوکس**<br><br>** د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "Roblox" روبلوکس د ګڼو لوبغاړو لخوا د لوبې جوړولو یوه وسیله ده چې مینځپانګه یې د کارونکي لخوا جوړیږي. | ددې پلټفارم کارونکي کولای شي په نوښتي ډول لوبې رامینځته کړي، سیالي وکړي، او خپل تخلیقونه د ملګرو، کورنۍ او نورو کارونکو سره شریک کړي. | په دې کې د حداقل عمر شرایط نشته<br><br>له 13 کلنۍ څخه لوړ عمر لرونکو لپاره ورانديز کېږي (په پرانستي توګه د پیغام لېږلو او د عملي تاوتریخوالي قابلیت لري - اړوند توضیحات د "Roblox" روبلوکس اړوند د والدینو په لارښود کې وګورئ. | د "Roblox" روبلوکس اړوند د والدینو لارښود |
| "Snapchat" سنیپچاټ<br><br>** د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "Snapchat" سنیپچاټ د انځورونو، ویډیوګانو، متنونو او رسمونو د شریکولو لپاره د پیغام رسولو یو اپلیکېشن دی چې د کتلو وروسته اړوند مواد ورکیږي. | ددې اپلکېشن کارونکي پرته له دې چې اړوند معلومات یې په آنلاین ډول خوندي شي، کولای شي خپلې تجربې له ملګرو یا کورنۍ سره شریکې کړي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br><br>د "Snapchat" سنیپچاټ د محرمیت پالیسي (د "Children" ماشومانو تر سرلیک لاندې د اپلکېشن د استعمال لپاره د عمر شرایط وګورئ) | د "Snapchat" سنیپچاټ لپاره د والدینو لارښود |
| **"TikTok" ټیک ټاک**<br><br>** د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "TikTok" ټیک ټاک یو ویډیویي اپلیکېشن دی چې کارونکو ته اجازه ورکوي چې په هره موضوع کې 15 ثانیې ویډیوګانې جوړې او له نورو سره شریکې کړي. | ددې اپلکېشن کارونکي کولای شي په ایپ کې د شته ځانګړو موادو او فلټرونو څخه کار واخلي ترڅو خپلې ویډیوګانې جوړې کړي او د کورنۍ ، ملګرو او پیرودونکو سره یې شریکې کړي. | بشپړ حساب ته د لاسرسي لپاره له 13 کلنۍ څخه لوړ عمر<br><br>د 13 کلونو څخه کم عمره ماشومان کولای شي د محدودو مشخصاتو لرونکي اکونټ جوړ کړي.<br>د "TikTok" ټیک ټاک خوندیتوب او د عمر شرایط | د "TikTok" ټیک ټاک اړوند والدینو لارښود |

# د ټولنیزو رسنیو د پلټفارمونو ډکشنري

| پلېټفارم | تفصیل | موخه یا ارزښت | د عمر اړوند لارښوونې | اضافي سرچینې |
|---|---|---|---|---|
| **"Twitch" ټویچ**<br>** دا FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی مګر د سیمه ایزو او ملي ربوټیک سیالیو په جریان کې د استفادې وړ دی* | "Twitch" ټویچ د ژوندۍ خپروني خدمات دی چې یو کارن کولای شي په ژوندۍ بڼه پر انټرنیټ خپل نشرات خپاره کړي. | ددې اپلیکېشن کاروونکي کولای شي له نورو هغه کسانو سره اړیکه ونیسي چې هغوی د ورته موضوعاتو په اړه لیوالتیا لري. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br>د "Twitch" ټویچ د خونديتوب او عمر شرایط | د "Twitch" ټویچ اړوند والدينو لارښود |
| **"Twitter" ټویټر**<br>** د سیمه ایزو اړیکو لپاره کارول کیږي* | "Twitter" ټویټر د خبرونو او ټولنیزو شبکو یو ویبسایټ دی چې کاروونکي یې لنډ پیغامونه چې د ټویټونو په نوم یادیږي شریکوي. | ددې سایټ کاروونکي کولای شي د نورو سره اړیکه ونیسي او خپل پیغام د ډېرو لیدونکو سره شریک کړي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br>د "Twitter" ټویټر د کارولو اړوند د عمر شرایط | د "Twitter" ټویټر اساسات |
| **"YouTube" یوټیوب**<br>** یوازې د FWPS په سیمه ایزو وسایلو کې د تایید شویو ویډیوګانو سره په FWPS کې د محدودې کارونې لپاره تصویب شوی دی* | "YouTube" یوټیوب د ویډیو شریکولو ویبپاڼه ده چې کاروونکي کولای شي ویډیوګانې اپلوډ او د نورو سره یې شریکې کړي. | ددې ویبپاڼې کاروونکي کولای شي د خپلې خوښې مینځپانګې د شریکولو لپاره یوټیوب د یو نوښتي سایټ په توګه وکاروي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br>(د یوټیوب په شمول) د "Google" ګوګل د حسابونو لپاره د عمر شرایط | د ماشومانو "YouTube" یوټیوب اړوند د والدينو لارښود |
| **"WhatsApp" واټسپ**<br>** دا د FWPS سیمه ایز استعمال لپاره نه دی تصویب شوی* | "WhatsApp" واټسپ د پیغام رسولو یو اپلیکېشن دی چې کاروونکو ته اجازه ورکوي چې پیغامونه، انځورونه، ږغونه او ویډیوګانې ولیږي. | ددې اپلیکېشن کاروونکي کولای شي د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د خپلو ملګرو سره اړیکه ونیسي او یو له بله همکاري وکړي. | له 13 کلنۍ څخه لوړ<br>د "WhatsApp" واټسپ د استعمال په اړه د عمر شرایط | د "WhatsApp" واټسپ پیغام رسونکي اپلیکېشناړوند د محرمیت ارزونه |

# د ټولنيزو رسنيو د پلېټفارمونو ډکشنري

| پلېټفارم | تفصيل | موخه یا ارزښت | د عمر اړوند لارښووني | اضافي سرچينې |
|---|---|---|---|---|
| **"Zoom" زوم**<br><br>* په FWPS کې د ښوونکي د حسابونو له لارې د کارولو لپاره تصویب شوی دی او زده کونکي د ښوونکي یا مدیر لخوا په جوړو شویو غونډو کې سره یوځای کیږي | "Zoom" زوم د ویډیویي غونډې یا ناستي یوه آله ده. | ددې اپلکېشن کارونکي کولای شي په انلاین بڼه د پېښو یا همکاریو او یا هم د فرصتونو په اړه د نورو سره ناسته وکړي. | د حساب جوړولو لپاره باید له 16 کلنی څخه ډېر عمر ولري<br><br>د "Zoom" زوم له لارې په ناسته کې د ګډون لپاره د حد اقل عمر شرط نه شته<br><br>[د "Zoom" زوم د استعمال لپاره د عمر شرايط]<br>(د "7. Intended Use تر سرلیک لاندې وګورئ) | [د "Zoom" زوم د استعمال اړوند د والدينو لارښود] |

د عمومي احساس لرونکي کورنۍ لارښود

*په دغه پلېټفارمونو او نورو مواردو کې د اضافي معلوماتو او ويډيوګانو لپاره پر لاندې لینک کلیک وکړئ یا د QR کوډ سکین کړئ.*

**[bit.ly/FamilyUltimateGuides]**

| د ټولنيزو رسنيو د لغاتونو قاموس | | | |
|---|---|---|---|
| **اصطلاح يا ستراتيژي** | **تفصيل** | **اغيز** | **د وسيلې ځانګړتياوې** |
| **"Avatar" اوتار** | په لوبه کې د لوبغاړي کرکټر څه ډول ښکاري. تاسو کولای شئ دوی د ځانګړتياوو، وسايلو، او جامو او نورو له مخې تنظيم کړئ. | داسي يوه اصطلاح چې په يوه ځانګړې لوبه يا ډيجيټل وسيله کې ستاسو اړوند څېرونکي بصري هويت رامينځته کوي. | نږدې هره لوبه او د ټولنيزو رسنيو هر پلټفارم. |
| **"Esports" برېښنايي لوبې** | د رقابتي، مسلکي يا ښوونځي لوبو لپاره يوه جامع اصطلاح چې لوبغاړي (اکثرا په ليګونو يا ټيمونو کې) يوله بله سره مخ کېږي. | لوبو ته د سيالي کولو سپورټ په توګه مشروعيت ورکوي او په آنلاين يا حضوري ډول د ساتېرې يوه بڼه ده. | د لوبو او پلټفارمونو مختلف ډولونه لکه "Twitch" تويچ، "YouTube" يوټيوب او نور ډير. |
| **"Griefing (or Trolling)" ځورول (يا خپه کول)** | په ويډيويي لوبه کې په قصدي ډول د نورو لوبغاړو تنګول، ځورول يا ورته زيان رسول، چې کله ناکله د غږيز يا متني پيغام له لارې ترسره کېږي. | د ډيجيټل ځورونې او زيان رسولو يوه بڼه. کېدای شي خپګان په نښه شوي فرد او غمجن شخص باندې دوامداره اغيزې پرېباسي، چې په دې کې ټولنيز عاطفي فشار او د لوبو اړوند پلټفارمونو کې ځنډ/ بنديز هم شامل دي. | (د هرې لوبې د لوبولو، پيغام لېږلو، يا غږيز تعامل سره مل)د همکارۍ په موخه هر ډول لوبه يا پلټفارم. |
| **"Noob" نوب** | يو بې تجربه لوبغاړي ته اشاره کوي؛ چې د "newbie" څخه اخيستل شوی دی. | يوه اصطلاح ده چې لوبې کونکي او د ډيجيټل ټولني غړي تحقير او خپه کړي. | هره لوبه يا پلټفارم. |
| **"Pwned" مات شوی** | په "poned" پونډ تلفظ کېږي (لکه په استعاره اخيستل)، دا اصطلاح د "ملکيت" برعکس ده. د يو چا ماتول په دې معنی دي چې دوی په بشپړ ډول لوبه وبايلي. د مثال په توګه: "ما له تاسو په "Fortnite" کې درې ځلې په پرله پسې توګه لوبه وګټله! تاسو په بشپړه توګه مات شوئ!" | دا يوه داسې اصطلاح ده چې ورزشي روحيه نه غښتلې کوي او کېدای شي د سيالۍ پرمهال منفي رقابت رامينځ ته کړي. | هره لوبه. |
| **"Skins" سکينز** | دا يوه اصطلاح ده چې د نويو رمزي انځورونو د ځانګړتياوو د تشريح کولو لپاره کارول کيږي چې لوبغاړي يې رانيولای او يا هم جمع کولای شي. | مثبت يا منفي اغيزه نه لري مګر داسې يوه اصطلاح ده چې د لوبو د کرکټرونو د ښکاره کېدو پورې خاص ده. | هره لوبه. |

| د تولنیزو رسنیو د لغاتونو قاموس | | | |
|---|---|---|---|
| اصطلاح یا ستراتیژي | تفصیل | اغیز | د وسیلې ځانګړتیاوې |
| **"Squeaker" چغي وهل** | سپکاوی چې معمولا دا اصطلاح د ځوانو لوبغاړو لپاره کارول کیږي (ځکه چې د دوی غږونه عمیق نه وي. یادونه: دا عموما د نارینه لوبغاړو د مسخره کولو لپاره کارول کیږي، مګر دلته - البته - د ډیرو نور هغه ډول لوبغاړو لپاره کارول کېږي چې د مختلف غږونه لري. | دا یوه اصطلاح ده چې په لوبه کې د ښکېلو لوبغاړو د سپکاوي او ځورونې یوه بڼه ده. | هره لوبه یا پلټفارم. |
| **"Sweat" خوله کېدل** | یوه اصطلاح ده چې یو سخت لوبېدونکي لوبغاړي تشریح کوي، د بیلګې په توګه، هغه څوک چې هڅه کوي په غیر ضروري طریقه لوبه وګټي. | دا یوه اصطلاح ده چې کېدای شي یو لوبغاړی په منفي ډول په نښه شي او یا د یو فرد د لوبې د بڼې په اړه قضاوت وکړي. | هره لوبه. |
| **"Wrecked" ویجاړ شوی** | مات شوی. دا اصطلاح ډېرې وختونه په "get wrekd" عبارت کې کارول کیږي. | دا یوه داسي اصطلاح ده چې ورزشي روحیه نه غښتلې کوي او کېدای شي د سیالۍ پرمهال منفي رقابت رامینځ ته کړي. | هره لوبه. |